# د افغانستان اسلامي امارت

# د ښاروالیو چارو لوی ریاست

## د کندهار ولایت ښاروالی ریاست

## د تخنیکي او مسلکي چارو ریاست

**د میاشتنیو اجراآتو او لاسته راوړنو مفصل راپور**

له (۱/ ۷ /۱۴۰۱) څخه تر (۳۱ / ۱۰ /۱۴۰۱) نېټې پورې

**د وړاندې کولو نېټه:** --------/-------/----------

# د موضوعاتو لړلیک


سریزه-------------------------------------------------------------------------------------------------------۲

د راپور لنډیز---------------------------------------------------------------------------------------------- ۲

د پلان سویو فعالیتونو مفصل راپور ،اجرآت او لاسته راوړنې ------------------------------------------- ۳

الف : په یوه میاشت کې ترسره سوي فعالیتونه او لاسته راوړنې (پایلې) ------------------------------------------------------ ۳

الف : په یوه میاشت کې ترسره سوي فعالیتونه او لاسته راوړنې (پایلې) ------------------------------------------------------ ۳

الف : په یوه میاشت کې ترسره سوي فعالیتونه او لاسته راوړنې (پایلې) ------------------------------------------------------ ۴

ب : په یوه میاشت کې ځنډیدلي فعالیتونه ------------------------------------------------------------------------- ۵

ج : په یوه میاشت کې ناپیل سوي فعالیتونه ------------------------------------------------------------------------ ۶

عمده ستونزې او وړاندیز سوې حل لارې ------------------------------------------------------- ۶-۷


**سریزه:**

د افغانستان اسلامی امارت د رهبری مقام د (۱۲۵۱) شمیرې ۱۴۴۳/۷/۱۵ نیټې حکم په اساس ،وزارتونو او خپلواکه ریاستونو ته دنده سپارل کیږي ترڅو له خپلو کړنو میاشتنی راپور په دوامداره توګه په ټاکلي وخت کې د ا.ا.ا د رهبری مقام ته وړاندې کړي.

د مقام د پورتنی شمیرې سره سم د کندهار ولایت د ښاروالی ریاست د انجینری او زیربنایی عمومی مدیریت د سرطان د میاشتنی راپور چې له ۱۴۰۱/۴/۱ څخه تر ۳۱ / ۴ / ۱۴۰۱ نیټې پورې اجرآت په کې شامل دي ،ترتیب او په درنښت سره وړاندې کیږي.

**د راپور لنډیز**

د کندهار ولایت د ښاروالی ریاست د تخنیکي او مسلکي چارو ریاست په یوه میاشت کې ټول پلان سوې فعالیتونه چې ځینې یې بشپړ شوي او ځیني یې تر کار لاندي دي چې لاسته راوړني هم لري ،

| ټول پلان سوي فعالیتونه (په یوه میاشت کې) | بشپړ سوي فعالیتونه (په یوه میاشت کې) | ځنډول سوي فعالیتونه (په یوه میاشت کې) | ناپیل سوي فعالیتونه (په یوه میاشت کې) |
|---|---|---|---|
| ۹ | ۹ | | ۲۱ |

**د سکتوري او ښاري خدماتو آمریت د پلان سویو فعالیتونو مفصل راپور،اجراآت او لاسته راوړنې**

**الف : په یوه میاشت کې ترسره سوي فعالیتونه او لاسته راوړنې (پایلې)**

| شمیره | دفعالیتونو طبقه بندی | د پلان مطابق د بشپړ سوي فعالیتونو د پلی کېدو څرنګوالي په اړه تفصیلی راپور | لاسته راوړنې (د ترسره سوي فعالیتونو پایلې) |
|---|---|---|---|
| ۱ | | د ښاروالی په امکاناتو او د بیلا بیلو مؤسساتو لخوا زموږ سره په همږغي د مختلیفو سړکانو جوړول، او همدارنګه په ښار کي د سلبونو اینودل دي | چې ځیني تر کار لاندي دي او د ځینو کار سرته رسیدلی دی |
| ۲ | په مختلیفو ناحیو کي | د کندهار ښار په مختلیفو ناحیو کي د سولر سیستم حفظ او مراقبت کول | چې فعلاً کار په دوامداره توګه جریان لري |
| ۳ | ورځني فعالیتونه | د روزمره کارونو د اجراء په موخه د ځینو تخنیکي سروې ګانو او براوردونو له پاره رسمي هیئتانو لیږل او علاوه د ځینو ملکیتونو د لاښه وضاحت په موخه د ملکیتونو د کروکی او تثبیت او د مراجعینو د عرایضو او د مقام د هدایت په اساس اړوندو ریاستونو ته درسمي مکتوبونو استول، د ختو د اعمار په موخه ورځني هئیتان تعینول څکه اکثریت ملکیتونو د شفافیت او رونتیا له درکه باید ساحې ته تخنیکي شخص ولاړ سي او بعداً د ملیکت د کره توب او جعلیت اړخ معلوم سي. | چې د مراجعینو کارونه له ځنډ او خنډ سره مخ نه سي او په کارونو او اړوندو ملکیتونو پروسه کي شفافیت راسي او د قبضې مخه ونیول سي. |
| ۵ | | د کندهار ښار د دست فروشانو لپاره ۲۰ داني ړیړی جوړي سوي. | یادي پروژي کارونه 100% فیصده تکمیل سوه. |
| ۶ | عمده فعالیتونه | د ۲ ناحیې اړوند د تاج محل صالون شرق طرفته د سړک دوه طرفه پیاده رونو په اساسي ډول جوړول. | کارونه یی 80% فیصده تکمیل سوي دي او پاته کارونه یی جریان لري. |
| ۷ | | د کندهار ښار په ۵ ناحیه کي د حیواناتو لپاره د نوی ګنج جوړولو د پروژی سروي، ډیزاین او نقشه ترتیبول. | د یادي پروژي د سروي، ډیزاین او نقشي کارونه 100% فیصده تکمل سوه. |
| ۸ | مختلیفي ناحیې | د ACHRO مؤسسه له طریقه او د UNHCR په مالي لګښت او د ښاروالی ریاست په همکاري د کندهار ښار په ۱۲ ناحیه کي پر ۱۲۰۰۰ متره مربع مځکه باندي د پارک جوړول. | د یادي پروژي کارونه 60% فیصده تکمیل سوی او پاته کارونه یی جریان لري. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹ | مختلفي ناحيي | د UNOPS مؤسسي په مالي لګښت او د ښاروالی رياست په همکاري د کندهار ښار د ۵ ناحيی اړوند د ناصرانو د کلا په ساحه کې د کوڅو د کانګريټ کولو پروژه. | د يادي پروژي کارونه 40% فيصده مخته تللي دي او پاته کارونه يی جريان لري. |
| ۱۰ | د کرايو له درکه | د کندهار ښاروالی په همکاري او د UN HABITAT مؤسسه په مالي لګښت د کندهار ښار د اولي ناحيی اړوند پر حبيبي واټ باندي د سولر څراغانو د خادو ايښودلو پروژه چي سروي او ډيزاين يی هم تکميل سوي دي او په نږدي راتلونکي يی عملي کارونه شروع سي. | چي د ښار د نما سبب کيږي او ښاريانو ته هوساګلوي رامنځته کيږي |
| ۱۱ | | د ښکارپور دروازې د چوک څخه بيا د ۱۵ ناحيي تر زابر پوري د ۲،۵ کيلومتره په طول او د ۴۰ متره په عرض د سړک دواړو غاړو ته د استملاک چاري بشپړي سوي دي | په نږدې راتکونکي کښي به د خلکو د استملاک د معويضي چاري پيل او نوموړی سړک به په اساسي ډول جوړ سي |
| ۱۲ | ميزان مياشت | د ښاروالی رياست مربوط د بالاخانو او دو کانو د کرايی له رويه مبلغ / ۱۰۰۰۰۰ يو ميليون افغانی کرايه اصول سوي | چاري ئې 100% فيصده تکميل سوی. |
| ۱۴ | عقرب مياشت | د ښاروالی رياست مربوط د بالاخانو او دو کانو د کرايی له رويه مبلغ / ۱۱۰۰۰۰۰ يو ميليون سل زره افغانی کرايه اصول سوي | چاري ئې 100% فيصده تکميل سوی. |
| ۱۵ | قوس مياشت | د ښاروالی رياست مربوط د بالاخانو او دو کانو د کرايی له رويه مبلغ / ۱۸۰۰۰۰۰ يو ميليون اته سوه زره افغانی کرايه اصول سوي | چاري ئې 100% فيصده تکميل سوی. |
| ۱۶ | د استملاک په هکله | د کندهار ښار د پنځلسمي ناحيي اړوند د ښکارپور دروازې د چوک څخه بيا تر المکه پلازي پوري د المکه پلازې څخه د زابر تر پُله پوري د سړک جوړيدو په مسير کي د استملاک پروسه چي اسنادونه يي تر طی مراحلو لاندي دي . | کارونه يی جريان لری. |
| | **د پلانګذاری او انکشاف آمريت د پلان سويو فعاليتونو مفصل راپور،اجرآت او لاسته راوړني** | | |
| ۱ | د ۹-۱۲ ناحيو د سند ملکيتونو توزيع | په کندهار ښار ۹ او ۱۲ ناحيو کښي د دو مياشتو په جريان کښي (۴) داني سند ملکيتونه توزيع سوي دي. | د خلکو د هوسايني له پاره د ځتو د اعمار پروسه اسانه سوي او ددي ترڅنګ ښاروالی‌ته زيات عوايد تحصيل سوي دي. |
| ۲ | د کندهار ښار په مختلفو ناحيو کښي د ريهاشي نقشو ويزه کيدل | د کندهار ښار په مختلفو ناحيو کښي (۱۰۹) ريهاشي نقشي ډيزاين او ويزه سوي دي چي د ټکس له درکه عوايد کندهار ښاروالی بانک ته تحويل سوي دي. | د عوايدو ازدياد او د پلان مطابق اعمار اجازه ورکول سوي ده |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ | د کندهار ښار په مختلفو ناحیو کښي د تجارتي نقشو وېزه کېدل | د کندهار ښار په مختلفو ناحیو کښي (۳۸) تجارتي نقشي ډیزاین او وېزه سوي دي چي د ټکس له درکه عواید کندهار ښاروالی بانک ته تحویل سوي دي. | د عوایدو ازدیاد او د پلان مطابق اعمار اجازه ورکول سوې ده |
| ۴ | د نارنج مانۍ د حریم موضوع | د کندهار ښار په شپږمه ناحیه کښي د افغانستان د پخوانۍ پلازمیني(نارنج مانۍ) د یوه حصه چي د مدرسي د غیري قانوني اعمار چي د اعمار له پاره ئې هیڅ رسمي مدارک نلري کار جریان درلود چي د یادي موضوع د روښتیا له پاره ولایت مقام او ځیني نور ادارت په جریان کښي اچول سوي دي. | د خلکو ناپوهاوی او زور واکي |
| | **د تنظیف او سرسبزی آمریت د پلان سویو فعالیتونو مفصل راپور،اجراآت او لاسته راوړنې** | | |
| ۱ | دکثافاتو د اندازې اړوند | دتنظیف عمومی مدیریت په اندازه د (۳۹۶۲۵) متره مکعب کثافات انتقال کړي دي | ددی کثافاتو دانتقال په نتیجه کښی په ښار کی دکثافاتو په حجم کی کموالی راغلی دی |
| ۲ | | په پنځلسو ناحیو کښی په تعداد د (۷۵۰۰) تنه کاریکر د WFP همکاری موسیسی لخوا څخه دتنظیف او سرسبزی په برخه کی په کار گمارل سوی دی . | د پلان مطابق هری ناحی ته (۴۰۰) تنه کاریکر په واک کی ورکول سوی دی چی هغوی دتنظیف او سرسبزی په برخه کښی کار کوی اود تنظیف او سرسبزی آمریت لخوا نظارت کیږی |
| ۳ | | به تعداد د (۱۷) عرادی دمترک موټران د یونیسف همکاری موسیسی لخوا څخه روزمره د کثافاتو په ټولولو بوخت دی چی هر موټر دری پیری کوی چی مجموعه (۵۱) پیری کیږی | ددی موټرانو په واسطه په ښار کي هغه ساحی چی کثافات یي دیروی مشخص کیږی او کثافات یی انتقالیږی چی په څوارلسو ناحیو کی پلان کیږی |
| ۴ | | دتنظیف عمومی مدیریت په حمل او ثور میاشتو کی په اندازه د ۲۸ کیلومتره پاتابونه پاکاری کړی دی او هم یی د ځینو ساحو کار جریان لری | ددغو پاتابونوله جملی څخه د شهیدانو چوک عمومی پاتاب ، کابل بانک تر شکاپر دروازی عمومی پاتاب ، موی مبارکی لاندی ساحه پاتاب تر فقیربابا کوڅی پوری زیاتی ساحی پاکاری کړی او د ځینو ساحو کی کار جریان لری |
| | **د سرسبزی مدیریت د پلان سویو فعالیتونو مفصل راپور،اجراآت او لاسته راوړنې** | | |
| ۱ | د سرسبزی آړوند<br>روزمره اجراات | دسرسبزي عمومی مدیریت د ۱۸ اتلس ټانکرانو په واسطه په تعداد (۳۸۵۱) پیرو د ښار مختلفو ساحو کی کوچنی نیالگی ، لویې درختي او گلدانونه اوبه سوي دي. | دنیالگیو په اینښودلو او ښې روزني په نتیجه کښی په ښار کی د ککړي هوا په مخنیوي کی کموالی راغلی دی او دهوا په صافوالي او پاکوالي کي مثبت تغیرات راغلي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | د سرسبزي عمومی مدیریت لخوا په تعداد د (۴۰۰۰)څلور زرو نوی نیالگي لکه گل گلاب ، ناجو ، نارنج ، بوتل برش په لویه عیدگاه کی ، د میدان هوایي سرک او د ښار په مختلفو ساحاتو کي اینښودل سوی دي. | په ښارکی هغه درختي چي د کورنو ، مارکیټونو ،دوکانو ، پیادرونو ،او په عمومي جادو کی ئي د پوچی کولو اړتیا لیدل کیري دپلان له مخي یی په دوامداره توگه پوچی کیږي. |

## د مارکیټونو د تنظیم او انکشاف آمریت د پلان سویو فعالیتونو مفصل راپور،اجراآت او لاسته راوړنې

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د اصنافو نرخونو کنټرول ، د جوازونو کنټرول او وزنونو کنټرول | د روزمره اجرااتو په خاطر د مارکیټونو د تنظیم آمریت لایحه ده |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | د اصنافو ترتیب او تنظیم په تعین سویو ځایونو کي | د ښار د ښکلا او نظم په نظر کي نیولو سره |
| ۳ | اصنافو او کسبه کارانو ته د ځایونو تعین ، د نرخونو کنترول د وضیعت څخه باخبري د وزن کنترول په دوکانونو کي | د ښاریانو د ضرر او تاوان څخه مخنیوی او د حفظ الصح مراعت |
| ۴ | په ښار کي د تاریخ تیرو اجناسو د مخنیوي لپاره کمپاینونه ، په ښار کي د عامه نظم د ترتیب لپاره کمپاینونه او ټول اداري کارونه د مقام د هدایت مطابق | چی د اولس د هوسایني لپاره ذکر سوي فعالیتونه د ښاروالی ریاست مربوط د نورو آمریتونو سره په ګډ تفاهم ترسره سویدي |
| ۵ | د عامه سکتورونو د مشارکت ترویج د اقتصادي پیاوړتیا او د یو تجارتي بستر برابرول د تجارانو د تشویق لپاره | د ښاروالی د محصولاتو د لوړولو په منظور. |

عمده ستونزي!

| **شماره** | **عمده ستونزي** | **وړاندیزونه/ حل لاری** |
|---|---|---|
| ۱ | **دروان کال دوچکالی په خاطر داوبو دشدید کمښت سره مخ یو.**<br><br>**داچی دکندهار ولایت یو ګرم ولایت دی او ګرمی یې نسبت ځینو ولایتونو ته زیاته ده په دې خاطر دنیالګیو خوروبولو لپاره داوبو ټانکرانو ته شدید ضرورت لیدل کیږی.** | **داجراآتو دحل په موخه یی د ښاروالی مقام ته وړاندیزونه کول.** |
| ۲ | **دنیالګیو په روزنه کی دعامه پوهاوی نشتون.** | **دمحترم مقام څخه مو هیله ده چی په دی هکله پروګرامونه په لاره واچوی ترڅو ښاریان د نیالګیو په روزنه اوساتنه کښی اګاهی ترلاسه کړی.** |
| ۳ | **د خلکو د عکس العامل سره مخ کیدل.** | **د منظم پلان له مخي فعالیت تر سره کول دي.**<br><br>**د خلکو د غوښتني په نظر کي نیولو سره مخ ته تلل.** |

**غوښتني !**

په در نښت

**خلګ باید د ښاروالي ریاست سره همکاره وي.**

**د ښاروالی داخل او بهر اداري باید همږغي او په ګډه کارونه ترسره کړي او مشکلاتو ته د حل لاره پیداکړي.**

په درنښت



احمدجاوید ( میوندي)

د تخنیکي اومسلکي چارو رئس